


# نوې صوبې
# او د پښتنو قامي برخليک

خان زمان کاکړ

د ۱۹۷۳ء په آئين کښې د نوو صوبو دپاره موجود طريقه کار د شناخت د بحالۍ مطالبې ته يوه جمهوري لار پرانيزي، په پاکستان کښې د غېرفطري جغرافيايي الحاقونو په نتيجه کښې زښت لوئے انتظامي، قامي او ژبني کړکېچونه رامنځته شوي دي، د زړو کړښو مدافع د نويو کړښو د راښکلو په عمل کښې هم غواړي چې اصلي هويتونه بحال نۀ شي، په ژبني بنياد له نوي انتظامي جوړښت سره تاريخي تناظر هم په پام کښې ساتل پکار دي، د تاريخي انتظامي ورانيو ازاله په تاريخي تناظر کښې بايد چې وشي، د تهذيبي اثراتو د خوربدون په عمل کښې چې چېري د سياسي ګټو په هوس شلېدون اچول شوے دے، د ببرته تړون او پېوستون په حواله کۀ يې تګلاره وسنجول شي، په دې کښې د قومونو دپاره اوږدمهالې ګټې پرتې دي. مسئله يوازې د شناخت نۀ وي، نۀ شناخت يوازې په نوم پورې تړلے وي بلکې شناخت د ژوند له معيار، شرحِ تعليم، معاشي حثيت، قامي هويت او کلتوري پرمختګ څخه تشکيل مومي ځکه نو انتظامي ايډجسټمنټ داسې پکار وي چې په هغه کښې د شناخت د بنيادي فېکټرونو ترجيح او ترويج يقيني وي. د يوه قام په منځ کښې چې يې کرښې وويستې، د تهذيب تسلسل وشلېدو، د بربريت رواج ته پکښې زمينې مساعدې شوې، د مرکزيت د نشتوالي غميزې پښتنو ته غميزې ور په برخه کړې، دې ته ورته حال د دې نورو قامونو هم دے. يو باشعوره څوک به ضرور دې حقيقت ته متوجه وي، چې د قامونو په منځ کښې رابښکلې کرښې د سياسي ګټو په پار څومره فعالې وساتل شوې، پر خونې سرحدونو د امن هيلې ځکه هر وخت شنډې کېږي، چې فريقين د انسانيت تر ژوند د کرښو ژوند ته په زرچنده اهميت قايل دي، په هم دې اهميت قايلو وئيلي وو، چې مونږ ته خلق نۀ بلکې زمکه پکار ده. د زمکې په

هوس، د تورو اوبو په هوس، د معدنیاتو او وسایلو په هوس هره ناروا د ملکي سالمیت، نظریې او مذهب په نوم روا وګرځول شوه لېکن د دې د تصدیق دپاره کۀ هر څو شپږ لسیزې په دوامداره توګه، د جمهوریت په غېرحاضرۍ کښې، د اکانومي دېب له هرې مطالبې او هر حق څخه برملا منکر ؤ، خو په داسې حال کښې چې د مارشل لاء دپاره د کرایې لار بنده کړل شوه، په مېن ستریم سیاست کښې تر ټولو لوئې ګوند له خپلو زړو کرتوتو واوړېدو، تر یو حده یې د سیاسي شرافت، جمهوریت او د زمیني حقایقو نبض احساس کړو، د بدلون عمل روان شو، دا د جمهوریت برکات دي، نن ثابتېږي چې د ۱۹۷۳ آئین لویه تاریخي لاس ته راوړنه وه، د دې نقادان له سیاسي دوراندېشۍ څخه بې برخې وو، هغوي نۀ پوهېدل چې د پارلیماني سیاست تګلارې څۀ ډول رغول کېږي، کله هم چې تکنیکي کارونو ته په یو کلیوال انداز رجوع شوې ده، اولس ته ترې په نتیجه کښې مغالطې میلاؤ شوې دي، هر هغه عمل نېک وي چې مبارزې ته لار خلاصوي، سیاست داسې شے نۀ دے چې په یوه ورځ ټولې مسئلې هوارې کړي، د مسئلو د هوارولو دپاره میکانیزم، ټیکټیکس او بیا د نتایجو دپاره انتظار د ډېر استقامت کار دے، دا هغه څوک کولے شي چې سیاسي نظر یې رسا او پالیسي یې اوږدمهاله وي. سیاست څۀ داسې شے نۀ دے چې ضرور دي براه راست او سمدستي اثرات ولري، د حکمراني طبقې دپاره کۀ څۀ هم دا یو ډېر موثر عمل وي خو د اولسونو مبارزې وخت غواړي، د نتایجو په انتظار کښې یې مودې لګېږي. دا د لویې حوصلې کارونه دي، بدلون لیدل او په خپل ژوند کښې لیدل دي بې شکه د یو شخص خواهش وي خو دا خواهش پر ټول تحریک ورتپل او ترې اصول جوړول دانشمندي نۀ ده.

د اتلسم ترمیم په نتیجه کښې د پښتونخوا د نوم له بحالۍ سره د وړو قومیتونو د شناخت مقدمې ته یو ژور بنیاد په لاس ورغلو، اوس په جنوبي پنجاب کښې د سرائیکي قام د خپل ځانګړي تشخص ټاکل کومه لرې خبره نۀ ښکاري، د فاټا خلقو ته هم د خپل مستقبل د لار لیکې د ټاکلو ښه زمینه مساعده شوه، په ځنګلي قوانینو کښې یرغماله فاټا د ترهګرو په حواله کړل شوې ده، موزون ایډجسټمنټ یقیناً چې له پښتونخوا سره انضمام کېدلے شي، فاټا کۀ د پښتنو مېن سټریم ته راشي نو په دې به نۀ یوازې له urbanization سره نېغ په نېغه پېوند شي بلکې د پښتنو قامي نمایندګي به هم موثره کړي او د ترهګرو زور به هم مات کړي. له دې سره جوخت تړلے دویم سوال د بلوچستان د پښتون بیلټ دے او دا تر ټولو په دې وخت کښې سنګینه مسئله ده، هلته کښې انتظامي ایډجسټمنټ داسې دے، چې د آئیني طریقه کار له مخې پکښې پښتنو ته په خپل برخلیک ټاکلو کښې ډېر مشکلات دي. خپل ځان په خپل لاس په اقلیت بدل کړل شو او بیا اقلیت د ملا په لاس ورکړل شو. په صوبایي اسمبلۍ کښې د پښتنو قامي نمایندګي په نیشت حساب ده. ما ته مې په خپله سیمه کښې بې شمېره ساده او نالوستو خلقو وئیلي چې مُلا ته ځکه ووټ ورکوي چې مُلا یې په چپلاخه نۀ وهي، په دې خبره کښې سیاسي وژن او وزن شته خو

ځومره بدمرغي ده چې مُلا یې تر ما د ځان نجات دهنده وګاڼه. خامي په ما کېښي ده، په مُلا کېښې نهٔ ده. مُلا په خپل کار کېښې تر دې حده ضرور ایماندار دے چې تر ما خلقو ته نیزدې دے، ظاهري طبقاتي حېثیت یې هم تر ما د خلقو دپاره قابلِ قبول دے، اوس خو پکښې یو کېفیتي بدلون دا راغلے دے چې له خلقو سره د شرعي نظام او اسلامي امارت په ځائے د روډ، ټرانسفارمر او نوکرۍ وعده کوي، په بلوچستان کښې د depoliticization یوه خطرناکه دوره پېل شوې ده، مونږ یو الیکشن بل الیکشن خلقو ته ورځو، او دا نور وخت په تنظیمي خرمستیو تېرو. یو خپل تنظیمي جمود د ډسپلن په نوم برقرار ساتي او بل خپل تنظیمي انتشار د جمهوریت په نوم justify کوي، خلق مُلا قبضه کړل، مُلائیت د ټولنې په وجود کښې د داسې وېنو په ډول ورغړېد، چې قامي شعور او سیاسي وقار یې پکښې وواژه. د انتهایي بې وسۍ په حالت کښې د پرمختګ دوې درې لارې دي، د خپلو خلقو اعتماد بحالول، مُلا پر ځنډه کول یا ملا په یو نهٔ بل ډول د ځان کول او له دې ځخه علاوه، له بلوڅو سره د ښو تعلقاتو په غزولو مونږ کولے شو چې د خپل سرنوشت په ټاکلو کښې کامیاب شو. د بلوڅو پارلیماني ګوندونه په اعتماد کښې اخیستل کېدلے شي، د دې دپاره ښهٔ ماډل په پښتونخوا کښې د اې این پي او پي پي پي د اتحاد دے، چې تاریخي ګټې یې پښتونخوا صوبې ته ور په برخه کړې او پر وفاقي کچه یې هم ډېرې اوږدمهالې ګټې یقیني کړې.

د بلوچستان د سیاسي مسئلې پېچېدګي پر خپل ځائے، انتظامي حدبندي په تاریخي حواله مبهمه نهٔ ده خو په سیاست به تاریخ ځوک مني؟ د قامونو له وجود ځخه منکر پاکستان به د قامونو د تاریخ رښتیا ته ځنګه او ځوک تیاروي؟

په ستونځمن بلوچستان کښې، د تاریخي حدبندۍ د حقیقت په منلو، مونږ په کوم ایډجسټمنټ کښې په اوسېدلو سیال ګرځېدلے شو؟ د سیاسي ایجنډې رخ او هدف مو ځهٔ دے؟ مونږ به خېبر پښتونخوا ته مخ اړوو، ځان ته بېله صوبه غواړو، کندهار مو په نظر کښې دے او کهٔ نهٔ له بلوڅو سره پر یو اصول نور هم ځنګلوري اوسو؟ او په دې کښې چې ځوک هر یو آپشن انتخابوي، له امکان سره دي د دې پر انتظامي، طبقاتي، سیاسي او قامي عواملو هم غور وکړي او یو جامع ډرافټ دې د قام په وړاندې پېش کړل شي. زهٔ چې په کوم آپشن واضح یم، هغه له کندهاره وروسته، له خېبر پښتونخوا سره د قبایلي سیمو په شمول د یووالي آپشن دے، په پاکستان کښې چې تر کومه وخته د اوسېدلو جبر راتر غاړې وي، دې جبر ته په دې یووالي تر یو حده د کېفتي بدلون موجب ګرځېدونکے ځواب وئیل کېدلے شي. پر ژبني بنیاد د صوبو د جوړېدلو په اصول کښې پښتانهٔ خپل انتظامي قامي یووالے تر لاسه کولے شي، اوس باید په سیاست کښې په دانشمندي سره برخورد وکړل شي او د مفاهمت له لارې داسې اتفاقِ رایه راجوړه کړل شي ځهٔ ډول چې د پښتونخوا د نوم په وخت ولیدل شوه، په دې وخت کښې کارونه په هم داسې ژور سیاست وځي، د فاټا او سهیلي پښتونخوا پښتانهٔ باید د سیاست ژورو ته ځان کوز کړي.

khanzamankakar.kakar@gmail.com